**ليکونکې**: پاتريک جی بوخلنان( Patrick Buchanan) .
**منبع اودخپريدو نيته** : انفارميشن کليرنگ هوس(۲۱- ۲۰۱۵-۷)
**ژباړونکي** : پوهندوی دوکتور سيدحسام «مل» .

---

# په مينځنی ختيځ کی دتاج اود تخت پر سر لوبه

## *A Mideast Game Of Thrones*

*که دجمهور ريس ښاغلی «اوباما»دايران سره دهغه دهستوی تړون دريچارد*





*دامريکی دمتحده ايالاتو دنظاميانو دتريلينونودالر په لګښت سره بی ثمره کار*

*نکسن دهغه تړون ا ومعاملې سره کوم چې پرخپل مخ دچین ترلې دروازې پرانیستل پرتله کړ شي نو په هغه صورت کې کوچنۍ **نا تن یاهو«** داسرایل لمړی وزیر » به پوه شي چې* ***چین کیا شیک*** کله چې خپل زوړ اومخکینی آشنا ریچارد نکسن یی ولید ځرنګه خپل جام د نکسن سره دما تسون (Mao) په نابودی په پیکنګ راپورته کړ .

دایران سره دهستوی توافق تړون دجیوستراتیژیک په سطح او لیول کې نه دی اوهغه داچې دوی دواړه ( دتړون دواړه خواوی) دامریکی دمتحده ایالاتو دهغو خیا نو اووران کارومتحد ینودحرکا تو په نظاره کی دی کوم چې هغوی ټول په واشنګټن کی را زیږیدلی اودخپل سوړ او بی میله ارزیا بی په سر ته رسولو سره ددی ضرورت وینی چې ددی تړون پربنیاد نوی تهد ید ونه (ګواښ) ته انعکاس ورکړی ترڅو چې نوی فرصتونه تر لاسه کړی .

دلته هغه څه شي چې دیادونې وړ دی دادی چې دایران په اړه څو پیښې سره په ګډه دامریکی متحده ایالات دی ته اړ کړ چې دایران دتازه پیښواوحالاتوپه کتو سره په حرکت کی ولویږی .

***لمړی*** : په انتخاباتو کی دایران د جمهور ریس «***حسن روحانی*** » دجون دمیاشتی کال (۲۰۱۳) هغه بی سا ری اوبی جوړه بریالیتوب کوم چې هغه دایران دجنبش سبز (شین حرکت ) دپلویانو درای په ورکولو سره قدرت ترلاسه کړ هغه قدرت چې هغه په کال (۲۰۰۹) کی ونتوانید چې «***محمود احمدی نژاد*** »ته په انتخاباتو کی ما تی ورکړی او قدرت ترلاسه کړی .

وروسته له هغه کوم چې روحانی وتوانیدل هغه دایران دمذهبی مشر« ***آیت الله خامنی*** » څخه پوره واک اومجوز تر لاسه کړ چې په ټپه سره دایران دریدلی هستوی مذاکرات بیا له سره را ژوندی کړی او مقا بل لوری ته بلنه ورکړ چې ایران مذاکراتو ته چمتودی .ترڅو چې ددغه وړاند یز په رڼا کی وشی کړلی چې امریکی د متحده ایالات او دملګرو ملتونو هغه تعذیرات کوم چې پر ایران باندی وضع کړی وه هغه له مینځه ویسي اوهم دامریکی د بمی یرغل مخه ونیسی کوم چې هغه هیواد داوږدی مودی هد ف وه .

وروسته له هغه په سوریه کی د***رقیه*** اوپه عراق کی د***موصول*** اود ***انبار*** په نامه سره سازمانونو کوم چې داسلامی دولت په رامینځته کیدو سره ظهور وکړ په تشنج او په شا نتا ژ سره خپل کړنی جا ری کړل اوبیا په ځانګړی بنې سره داسلامی دولت د منسوبینو او دډلو ټپلو له خوا دشیعه او دامریکی دمتحده ایالاتو پرضد حرکتونه او دا هغسی ناوړی او کرغیړن حرکات کوم چې په عملی بني ( de fecto) سره ایران اودامریکی متحده ایالات سره را نژدی کړ ترڅوچې هغوی دبغداد د را نسکورید ومخه ونیسی.

لاکن دامریکی دمتحده ایالاتو اود ایرانیانو دګډو ګټو پرضد دامریکی مخکینی متحدین لکه سعودی عرب – اسرایل او ترکیه را وپاریدل اوخپل مخالفتونه راښکاره کړل .
ترکیه دایران سره دبشر الاسد ملګرتیا او اتحاد دترکیی پرضد ستر ګواښ بولی اوله دی څخه په ویره کی ولویږی چی په سوریه کی داسلامی دولت ضد حلقی یعنی کوردان په دی لټه کی ونشی چی هلته مستقل او دوهم کوردستان جوړ نکړی نو په دی بنیا د هغه دولت یعنی ترکیه غواړی چی دا سلامی دولت سره هر اړخیزه مرستی تر سره ګړی .
سعودی عرب دایران شیعه ګان په خلیج کی خپل یواځنی یو جیو ستراتیژیک سیال یا رقیب ګڼی کوم چی ایرانیانو په لبنان کی دحزب الله ، په د مشق کی میشته شیعه ګان او په یمن کی دهوتیس (Houthis) سره ډیر نژدی اړیکی او اتحاد لری، همدارنګه دا دایران هیواد دی کوم چی په بحرین کی دخپل شیعه ګانو په لمسون سره په خراب کا ری لاس پوری کوی اوهم د عربستان د شیعه ګا نو په قلمرو کی د نفتو اود تیلو زیرمی د ګواښ سره مخامخ کړی .
د بلی خوا څخه دا سلامی دولت سنی اړخو مسا بقه ورکونکو او دایران شیعه پلو را پاڅیدونکو او چلنچ ورکونکو ډیر د ودی په حا ل کی سره روان دی او هره ورځ واټونه سره را لنډوی ، اوپه تیره بیا دنوموړی هیواد په پولو کی کوم چی اوس اور بل شوی نه یواځی داچی سعودی عرب ته ګواښ بلل کیږی بلکه د خلیج ټول عرب میشتو ته یوستر خطر رامینځته کړی .
***نن په مینځنی ختیخ کی هغه کوم چی د عظمت تاج یی پر سرکړی ډیر غمجن اوعصبی ښکاری .***
***دبلی خوا څخه اسرایل هم په نوموړی حوزه کی ایران خپل غټ دښمن بولی هغسی یو دښمن کو چی په لبنان کی دحز ب الله اصلی ستنی اوپایی را جوړه کړی او کوچنی ناتن یاهو یی په ژور اندیښنه کی اچولی اوهغه دا چی د ایران او د امریکی تر مینځ دنیکو اوحسنه اړیکو برقرارید ل پخپله بی له یو دیپلوما تیک ناورین څخه به بل شی نه وی .***
***هغه څه چی تراوسه موپورته یاده کړ مونږ په مینځنی ختیځ کی یو ډیر رغنده پوښتنی سره مخامخ کوی اوهغه داچی :***
ایا دامریکی دمتحده ایالاتو اودایران دغه هستوی وروستنی تړون اومعامله زمونږ دواقعی اوریښتنی ټلوالو په ګذری بنی سره داسلامی دولت پر ضد یو ایتلاف دی ؟ یا چی دا پخبله له پیله د(۳۵) کلنو ایدیولوژیکی غلیمانو تر مینځ یو شیطانی لوبه دی ؟
له حالاتو څخه رغنده داسی ښکاری چی په دی معامله کی دامریکی دمتحده

ایالاتو اودایران یعنی ددواړو هیوادونو مشترک ګټی پروت دی .
دوی سره نه غواړی چی وجنګیږی اوداځکه چی داسی جنګونه په خلیج کی اور بلوی یا خلیج دپارس په اور کی غورځول کیږی دنفت راکړی ورکړی په ټپه دریږی اوپه غرب کی اقتصادی ژور بحران را مینځته کیږی .
اود ایران د پاره جنګ دامریکی سره هغه هیواددما تی اود اړودوړ سره مخامخ کوی لکه هغسی چی «صدام حسین » په خلیج کی دخپل هیواد دهژمونی یا دسرکرد ګی چانس دلاسه ورکړ .
دبلی خوا څخه داسی ښکاری چی دواړه هیوادونه یعنی دامریکی متحده ایالات اوایران نه یوائی دا چی داسلامی دولت ما تی اودهغه دړی وړی کید ل غواړی بلکه دوی غواړی چی اسلامی دولت له بیخه شنډ او له مینځه ویسی - دواړه هیوادونه دلته ډیر پراخه او مشترک ګټی لری او هغه هم په هغه صورت کی چی دشیعه رژیم په بغداد یا داسد رژیم په سوریه کی له نسکوریدو څخه وژغوری.
حال داچی دامریکی اودهغه دمخکینی ټلوالو ترمینځ هوډ داددی چی بل ځلی دسوریی سره د برخورد اودتکل وخت دی .
ترکیه ، سعودی عرب اواسرایل دری واړه هیوادونه غواړی اویا په دی هوډ کی دی چی داسد رژیم رانسکور شی اودایران دشیعه ګانو سپوږمی تیاره او ستراتیژیکی ماتی سره مخامخ شی اما دامریکی متحده ایالات په دی نظر دی چی داسد په نسکوریدو سره اسلامی دولت او ، القاعده پیاوړی کیږی اودعیسویانوپه قتل عام لاس پوری کوی نوپه دی اساس سنی مذهب تروریستی اسلامی دولت هسی کلک قدرت به تر لاسه کړی چی هغه به زمونږ یوله نه پخلاکیدونکی غلیما نو څخه به وشمیرل شی .
تاسی اوس وګوری چی سعودی عرب ، اسرایل ، دهغو د تنویری خونی متفکران ، لیکوالو اوټول عملیا تی ډلی ټپلی خپل ډولونه او نغا ری په کلک ځپیږو سره وهی چی دامریکی متحده ایالات هرڅنګه چی کیږی هرومروباید بشرالاسد رانسکور کړی یعنی هغه سړی کوم چی خپل خلک وژنی.
وضع او حالت شاید داسی جوړ شی یا داچی روان حالت داسی یو زمینه مساعده کړی چی دامریکی متحده ایالات دخپل مخکینی ټلوالو سره یوځای شی او د دی د پاره چی د خپل مخکینی متحد ینوسره نژدی شی نوپه هغه صورت

کی امریکی باید هغه ټول اصلی خنډ ونه د مینځه ویسی چی مونږ ټولو سره یوځای شو او دعراق وشام داسلامی دولت تر شا لاړ شو ، نو کله چی بشر الاسد یوځل دمینځه لاړ شی نو په هغه صورت کی لاره دتلو دپاره خودپه خود ټولو ته اواریږی اومونږ کولای شو چی دعراق وشام اسلامی دولت ترشا لاړ شو اما په دی شرط چی لمړی باید اسد له مینځه لاړشی .

***په دی سناریو کی غلطی او اشتباه څه دی ؟***

دلته داسی یو فرضیه نیسو اوهغه داچی دامریکی متحده ایالات دی مخکی له هرڅه په منطقه کی داولوتکواولتونه( منطقه پروازهای ممنوعه) په ټپه ودروی اود بشر الاسد دبیلری بمونومخه ونیسی نوپه هغه صورت کی لازم ګڼل کیږی چی د سوریی پرهوایی میدان با ندی مزایل اوډزی جاری وساتی ایا دا دجګړی کړنی نه بلل کیږی ؟ کوم چی مونږ په عملی توګه سره دالقاعدی دنصرجبهه او دعراق وشام اسلامی دولت سره په ایتلاف کی ونه غورځوی ؟ اوبیا په هغه صورت کی داپخبله دامریکی پرضد حزب الله دبیروت څخه ، اوشبهه نظامی شیعه ګان له بغداد څخه را دعوتول یا رابلل نه دی چی خپل غڇ واخلی ؟

**همدارنګه په دی صورت کی به دامریکی د متحده ایالاتو او د ایران ترمینځ د ښو روابطو لاره به ونه تړل شی ؟ او مونږ ددی د پاره چی دخپلو یارانو اودمخکینی ټلوالو دستراتیژیکی اهدافو دلاسته راوړلو په هیله یو فرسا یشی او کرغیرن جګړه کی به را ښکیل نکړی ؟ او داپه پخپله دامریکی دمتحده ایالاتو د ملی منا فعو پر ضد به یو کړنه یا اقدام نه وی ؟ اویا په لمړی سرکی زمونږ دګټو پر ضد به ونه اوسیی .؟**

**---------------------------------------------- په درنا وی**